


# کور ته ښه راغلاست - ریډ ډییر، البرټا




نفوس: **۱۰۰,۸۴۴ خلک** ([۲۰۲۱ سرشمېرنه](#))
(ګڼ شمېر د سویلي او لویدیځې آسیا خلک، عربان او افغانان په کې شامل دي)

## د دې سیمې په اړه

ریډ ډییر


- په مرکزي البرټا کې د اډمونټون او کالګاري ترمنځ موقعیت لري
- د کاناډا د یو له لویو سوداګریزو ښارونو څخه ګڼل کیږي
- د خپلې بډایه طبیعي ښکلا له مخې پیژندل کیږي

البرټا[1] په کاناډا کې د بریټیش کولمبیا، ساسکچوان، او شمال لویدیز سیمې، او د امریکا متحده ایالاتو له مونټانا سره ګډه پوله لري.

البرټا په منځني ډول ۳۱۲ لمریزې ورځې او په اوړي کې تر ۱۸ ساعتونو پورې لمر لري. ژمي يې سوړ او واورین وي چې، د جنورۍ په میاشت کې یې منځنۍ ورځنۍ ټیټه درجه د سانتي ګراد په کچه -۱۰ °درجې وي. اوړي یې ګرم وي، د جولای په میاشت کې یې ورځنۍ منځنۍ لوړه درجه د سانتي ګراد په کچه 23° درجې وي.

---

[1] دلته ورکړل شوي ټول لېنکونه یواځې په انګلیسي ژبه دي.



په ریډ ډییر سیمه کې د شړشمو روښانه ژېړ رنګه میدانونه.

# د ریډ ډییر خلکو او ځمکې په اړه

د دي ځاي خلک په کاناډا کې له اروپايي میشتو او هغو خلکو له رسیدو څخه مخکې دلته اوسېږي چې دغه ځمکه یې د لومړي ځل لپاره کشف کړې وه. ریډ ډییر، د البرټا د زیاترو برخو په څېر، د ۷ م تړون په ځمکه کې موقعیت لري چې، د بلیک فوټ، سوو تیینا او ستوني ناکوډا خلکو دودیزه سیمه، د ۶ م تړون له مخې د البرټا مرکزي سیمه، دودیز میټیس، کري او سالټوکس سیمه کې راځي.




د محکمې ماڼۍ، تاریخي ودانۍ، ریډ ډییر، البرټا.

# ورځنۍ ژوند، دنده او ښوونځي ته تلل

ریډ ډییر د کار کولو، سوداګرۍ کولو، زده کړو، او بشپړ ورځني ژوندانه لپاره یو غوره ځای ګڼل کیږي.

تاسو کولی شئ د ریډ ډییر اړوند په دغو صنعتونو یا فابریکو کې دندې پیداکړئ لکه

- تیل او ګاز
- کان کیندنه
- د ښوونې او روزنې خدمات
- تولیداتو
- روغتیایي خدمات
- پرچون تجارت
- ودانیزې چارې

په البرټا کې لږ تر لږه رسمي تنخواه په یو ساعت کې ۱۵ ډالره ده.

د کور کرایې پکې توپیر کوي. د یوې کورنۍ لپاره یکې د کور اخیستلو منځنۍ قیمت نږدې ۵۸۰،۰۰۰ ډالره دی. د ۲ کوټو لرونکې اپارتمان په میاشت کې نږدې ۱،۱۰۰ ډالره کرایه درلودلی شي.

د البرټا له ځایې دولت څخه د کرایې او کرایه کونکو د حقوقو په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ.

دلته ګڼ شمېر ښوونځي، د ورځنۍ پاملرنې خدمات، او له ښوونځي وروسته پروګرامونه شتون لري. په کاناډا کې، زده کوونکي زیاتره له وړکتون (۳ یا ۴) څخه تر ۱۲م ټولګي (۱۷ یا ۱۸) پورې ښوونځي ته ځي. له هغې وروسته، دوی کولی شي لوړې زده کړې ترلاسه کړي یا هم دنده پیل کړي.

البرټا ۱۲ دولتي پوهنتونونه لري، زیاتره کالجونه او تخنیکي مؤسسات (پولي تخنیک انستیتوت) چې په لاندې ډول ښودل شوي، له ریډ ډییر په موټر کې د ۱۰۰ کیلومترو په واټن سره موقعیت لري:

- د برمن پوهنتون
- د البرټا پوهنتون (د ریډ ډییر د سپورمکی ځای)
- د ریډ ډییر پولي تخنیکونه
- د کرنې او تکنالوژۍ پخوانی کالج

تاسو کولی شئ دلته ګڼ شمېر سپورټونه هم وکړئ، لکه

- ګولي فوټبال (فوټبال)
- باسکیټبال
- والیبال
- لامبو وهنه
- د تیرو د لغږولو لوبه
- هاکي

له YMCA او د ریډ ډییر ښار څخه د تفریحي ادارو په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ.

دغه سیمه خپل د خوښیو ډک ژوندانه هنري او کلتوري صحنو

- ژوندۍ موسیقۍ، د آرکسټرال کنسرټونو او د موسیقۍ د جشنونو
- د اوړي د جشنونو
- د آس ځغلولو د مراسمو
- د تیاتر یا سینمایي تولیداتو
- او نورو فعالیتونو د لرلو له مخې پیژندل کیږي
- موزیمونو، لکه د البرټا د سپورټي لوبو د هڅونې مراسمو له امله پیژندل کیږي

تاسو کولی شئ په کې له عامه پارکونو او د چکر له ځایونو څخه په اوړي، او له تفریحي فعالیتونو لکه د واورې له غرنیزې لوبې، د واورې له عادي لوبې او د یخ له لوبې څخه په ژمي کې خوند واخلئ.

## ديني او کلتوري اتحاديې

د کاناډا د حقوقو او آزادیو منشور لاندې، تاسو کولی شئ په کاناډا کې د خپلې خوښې دین پلی کړئ. تاسو ته د خدماتو چمتو کوونکي اداره کولی شي له تاسو سره په ريډ ډيير کې د سيمه ييزو کلتوري اتحاديو سره په اړيکه نيولو کې مرسته وکړي.

## ځانګړي خواړه

په دې سيمه کې د خوراکي توکو ګڼ شمېر پلورنځي نړيوال خوراکي توکي پلوري. ډيری لوی سوپر مارکيټونه او د مينځنی ختيځ اړوند ګڼ شمېر پرچون پلورنځي حلاله غوښه هم پکې پلوري. ستاسو د خدماتو چمتو کوونکي اداره کولی شي له تاسو سره مرسته وکړي ترڅو خپلې سيمې ته نږدې پلورنځی پيداکړئ.

## د نويو راغلو اشخاصو لپاره ګټور معلومات

په دې سيمه کې له تاسو سره د مرستې لپاره نوري سرچينې

- کاناډا ته ښه راغلاست: د نوي راغلو اشخاصو لپاره د خيرونو لړۍ
- خپلې سیمې ته نږدې د نوي راغلو اشخاصو اړوند نوي خدمتونه پیداکړئ
- کډوالي او په کاناډا کې ځای پرځای کېدل
- د ريډ ډيير ښار
- د ريډ ډيير ښار نقشې او لارښودونه
- د نويو راغلو اشخاصو لپاره د ياملر نې خدماتظ
- ريډ ډيير او د هغې همه شموله ټولنو ته ښه راغلاست
- په ريډ ډيير کې د افغانانو اتحاديه
- د ريډ ډيير د کلتوري ميراثونو ټولنه
- په البرټا کې د دندې، زده کړې، او کار موندنې اړوند معلومات
- مور له ريډ ډيير څخه يو
- د البرټا سفر:ريډ ډيير